پروفیسور عبدالخالق ـ رشید د جواهرلال نهرو پوهنتون استاد ۲۰۱۹/۱۲/۰۴

# درانی احمد شاه د اوسنی افغانستان مؤسس
# او د پاني پت د تاريخي حماسې اتل

دویمه برخه



د دغی مقالی خلاصه په ۱۹۹۸ کال دهند دگجرات پوهنتون په بین المللی سیمینارکیولوستل شوه، دلته ټوله مقاله دیولړتاريخي اسنادوپه زياتي سره خپروم.

زموږ لاسونه ، زموږ پګړی سرونه ،
له ډیره درده غمه ،
په زعفرانی رنګ زعفراني شوي وو ...
هلته چې موږه د دښنه جګړې ته ورغلي وو ...
اوموږ له پانی پت را وتښتیدو...
اوپاچاهي مو هلته پريښودله ،
هلته مو بايلوله ...

شاعر: رودارد کیپلینګ ( له تښتيدلي پيشوا سره ډيلي ته مل )

======================

**ب: احمد شاه ابدالي خپله هند ته نه و ورغلی ...**

رابه شو دغه بحث ته چی احمد شاه ولی پرهند باندی یرغل وکړ اویا ولې هند وستان ته ورغئ ؟ لکه چی په تیرو کربنوکی تاسی ولوستل اویادونه وشوه چی د احمدشاه ورتګ پرهند وستان باندی یو پلان شوی ورتګ اولښکرکشی نه وه چی موږ هغه تراحمد شاه دمخه واکمنانولکه د نادرافشار دلښکرکشیو په شان وانګیرو.پرهند باندی د احمد شاه دلښکرکشی لامل په خپله په هند کی داخلی افراط ګري اودمغلي کمزورې واکمنی خوارځواکی حالت و. جادوناته سرکار په خپل اثر، ( دمغلی سلطنت زوال ) (په انګریزی ژبه ) کی په روښانه توګه دغه اصل ته اشاره کوي اوليکي



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځير و لولئ

چی« خورو وروم‌رهټه وو په دکن اوگجرات کی دواکمنانو پرضد توري را وکښلي کرار کرار یوه ډله شول اوپه شمالي هند کې یی پرتاخت وتاراج باندی لاس پوری کا، دهنددجټانو، سیکانو اومسلمانانو په تابع کولوکی د زورزیاتي لاره ونیوه او د دغو خلکو د ځان بلاشول او د ډهلی کمزوري واکمنان یې د ډهلي په تنگ چاپیریال کی سره راگیرکړل... »

پردغی یادونی سربیره یوه بله خبره چی په دغه باره کی دیادونی وړده هغه داده چی داحمد شاه دلښکرکشیو ترځنگ په هند کی ددغه هیواد دنورو قومونو ترځنگ دمسلمانو برخلیک په ځانگړې توگه دپاملرنې اویادونی وړو، په دی ما نا چی تردغه مهاله دلته دمسلمانانو سرنوشت په دغه هیواد په مادي اومعنوي لحاظ خورا اهمیت درلود، خو په دغه مهال چې احمد شاه بابا په آسیا کې دیوی لویی امپراتورۍ دسرواکمن و په دغه حالت کې دهند مسلمانان دنادرشاه له قتل عامه وروسته په خورا بد حالت کی شول ، داسی چی په دغه هیوا د کی دیوه اضافي ځواک اودسترگو داغزي په توگه ورته کتل کیدل اوهغه دپاملرنی وړماضي یی په تمامه ما نا دله منځه تلو په درشل کې لویدلې وه .دهند روحاني کړیوچی دتاریخ په اوږدو کی یې نه یوازی دهند په سیاسي اوټولنیزو چارو کی داهمیت لرونکی ونډه درلوده بلکه په همسایه اوگردو مسلمانو هیوادواوخلکو باندی یی هم خپلی روحاني اغیزی درلودې،همداوه چی په دغه مهال کی هم ددغو روحاني اړیکو مهم دریځ اوځواک په تمامه مانا له خپل اهمیته نه و رالویدلی. داحمدشاه ابدالي ترورتگ دمخه چې (سداشیوراو) اونورومرهټه وو کوم سپکاوی د مسلمانانو مقدسو ځایونو ته وکړ لکه دنظام الدین اولیا له زیارته د سپینوا سرو زرو لوټول اوهمداسې دجوماتونوله منځه وړل اولوټل هغه څه وو چې په دغو کړیو کې یې د یرغلگرو ځواکونو په وړاندې سخته کرکه را پورته کړې وه.

شاولی الله (١)اودهغه کورنۍ اوروحانیت په معنوی لحاظ په همدغه مهال کی په داسی حالت کی وه چی لایی پرخلکو،اوهم دډهلی اونوروهیوادو پرواکمنانو باندی خپل معنوی اغیزدرلود. دهند دمسلمانانو سترگې له ده

پرته بل چا ته نه وراوښتې ،ځکه خو ټولو پرده رامخه کړه، دشاه ولی الله دغه مهال په گرده اسلامي نړۍ کې له احمدشاه ابدالي پرته بل چا ته سترگی نه وراوښتی چی دهند دمسلمانانوددغه هیواد د نورو اقشارو دبرخلیک ژغورنې په باب له هغوی سره په تماس

کی شی، داپر دې چی په دغه ناتارکی چی پرهند باندی دمرهټه وو له لاسه راخورشوی و نه یوازی مسلمانان ترستوني راغلی وو بلکه نورو هندوانو هم ځانونه ددوی له لاسه دبربادۍ په کنده کی لویدلی شمیرل.اوگردهند همدغو مرهټه ډاکووانوورته سره تبۍ گرزولی و.دشاه ولی الله په غورځنگ کی یوازی مسلمانان نه وو، بلکه په دغه غورځنگ کی دنورو مذهبو پیروان هم برخمن وو چی هغوی هم په خپل وار له شاه ولی الله څخه داهیله درلوده چی په داسی حالاتو کی دی باید د (انسان ) یا هندوستاني ژغورنی په نامه له دوی سره لاس په کارشي . ددغه روحانی مشر ښه نیت او داحمدشاه ایمانداري اومرستندویه روحیه ددی سبب شوه چې ځان باید ددغو ولسونو دفاع اوننگې ته تیارکړي اوپه دغه حساسه اوتاریخي شیبه کې یې ځان د بې تفاوتۍ په بهیرکې ونه نیو. نامتولیکوال فریر په خپل نامتو اثر ( دافغانانو تاریخ )

(The History Of The Afghans) کی هم داحمدشاه دغو تمایلاتو ته اشاره کوي اولیکی چی : « احمدشاه دختیزوهیوادو له زیاتو ناوړو دودونواوناوړو شیانو له دودولولری و، له شرابو اوتریاکو یی ځان پریوه خواساته ، له منافقانه اوماجرایی افعالو پاک و، دمذهب جدی پیرو اوپالونکی و، ساده خو له ویاړه ډک خویونه اوعادتونه یی ددی سبب شوی وو چی دی یی دگردو خلکو په منځ کی ددرناوی مرحلی ته رسولی و. هغه ته رسیدل اوله هغه سره ناسته ولاړه گرانه نه وه ، له انصافه یی کاراخیست اوهیچا هم دهغه له فیصلو شکایت نه درلود " همد اسی ورته لیکنه شاه ولی الله رح هم په خپلو سیاسي مکتوباتو کی د احمدشاه په باره کی کښلې ده :

---

( ١) دحضرت شاولی الله رح ژوند لیک په یوه کوچنی رسالہ کی چی د (الجزالالطیف فی ترجمة‌العبدالضعیف) په نامه یاده شوي لیکل شوي چی موږ دلته له هغې څخه یوحوکرښې را اخلو: " دغه فقیر د١١١۴ه کال دشوال په (١۴) دچهارشنبه په ورځ دلمرختو پرمهال پردغه دنیا باندی سترگی را وغړولې ...مبارک تاریخی نوم یی عظیم الدین راووت ، یوشمیردوستانو دده په باره کی خوبونه لیدلی وو، چی هغه د (القول اجلی) په رساله کی راوړل شوي دي . په پنځه کلنی یی په زده کړه پیل وکا، پراووه کلنی یی پر روژه اولمانځه وردید،قرآن کریم اودفارسی تعلیم یی یوپربل پسی ترسره کړل ، په خوارلس کلنی یی دپلار په غوښتنه واده وکا،اوپر پنځلس کلنی یی دنقشبندیه صوفیانو،حضراتواومشایخو بیعت ترلاسه کا، زیات علوم یی په تیره بیا ادبی علوم ولوستل ، احادیث یی په خورا مینی سره مطالعه کړل، په تصوف کی یی هم اوچت ځای اولوړمقام غورکړ. په ١١۴۴ه کال کی بیت الله ته ولاړ هلته یی دخپلی استوگنې پرمهال دعلماوو له برکته ځان بسیا کا، په ١١۴۵ه کال کی بیرته دهلی ته راغبرگ شواودلته یی بیا پرمطالعه اوتحقیق باندی پیل وکړ اوزیات شمیر آثار یې ولیکل چی یوشمیریې دادي لکه : ١ فتح الرحمن، ٢ الفوذ الکبیر٣ فتح الخبیر ۴ مصفی ۵ مسوی ۶ حجتة‌الله البالغه ٧ بعدورالبازعه . ٨ ازلالقد الخفاعین خلافته الخلفأ ٩ قرة العین فی تفصیل الشیخین ١٠ انصاف ١١ عقد الجید ١٢ تحفته الموحدین ١٣ شرح تراجم ابواب صحیح بخاری ١۴ مجموعه رسایل اربعه ١۵ تفهیمات الهیه ١۶ خیرکثیر ١٧ فیوض الحرمین ١٨ الدراثمین فی مبثرات النبی الامین ١٩ انفاس العارفین ٢٠ انسان العین ٢١ القول الجمیل ٢٢ انتباه فی سلاسل اولیاالله ٢٣ الطاف القدس ٢۴ سطعات ٢۵ همعات ٢۶ لمعات ٢٧ مکتوبات فی مناقب امام بخاری وابن تیمیه ٢٨ مکتوب المعارف مع مکاتب ثلثه ٢٩ سرور المحزون ٣٠ الجزوالطیف ٣١ المقابله الرضیه فی الوصیته والنصیحة ٣٢ ثناالقلوب ٣٣ زیراوین ٣۴ تاویل الاحادیث ٣۵ سیوامع شرح الجبر ٣۶ العقدة الحسنه ٣٧ المقدمة الینیه ٣٨ چهل حدیث ٣٩ شرح رباعین ۴٠ مآثر الا جداد ۴١ العطیة‌الصمدیه ۴٢ فتح المودود فی معرفته الجینود ۴٣ مسلسلات اونور (وگورئ سیاسی مکتوبات ١٧۶مخ )

---



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

« احمدشاه دمذهبی احساساتو اورجحاناتو خاوند واکمن و، پرشاوخوایی د پوهانو اوعلماوو حلقه هرچا لہ ورایہ درک کولہ ، دلاهور، پشاور اوپتیالی دمشایخو پہ خدمت کی بہ حاضرو، ددهلی ، اجمیر اوپانی پت مزارونو تہ یی خاص ارادت درلود ، لکہ چي یوه ورځ دپاني پت لہ جنګہ دمخہ د بوعلی شاه قلندر مزارتہ پہ نیاز اوعجز سره ورغی اودعايي پرې وکړه. دهری پنجشنبی پہ ورځ بہ یی علما اومشایخ خپل دربارتہ ورغوښتل اولہ هغوی سره بہ یي پہ مذهبی معاملوکی خبرې اوبحثونہ کول " . ( سیاسی مکتوبات ١٩١ مخ )
احمدشاه بابا دغه تولي ځانګړني لکه چي نورو ليکوالو دهغه په اړه ويلي دي لرلي اودا هغه ځانګړني وی چي له هغو سره سره يي ترهغو چي يی د هند دنامتو روحاني لاربنود شاه ولي الله له خوا پرله پسي ليکونه تر لاسه نه کړل، ده هندوستان ته د تلواو لښکرکشيو فکر هم نه کاوه. همدغه بلنه وه چي احمدشاه بابا يي ناچارکړچي بايد هغه ته دهغه مهال دحالاتو په پام کي نيولوسره مثبت ځواب ورکړي. په دغه اړه دغه ليکونه اودهغو موخي لږ نوري هم را سپړو:
حضرت شاه ولی الله پہ یوه لیک کی چي داعلحضرت احمدشاه بابا پہ نامہ یی کښلی اوسرلیک یی دی (بہ جانب پادشاه ووزیروامرأ) لولو : " الحمدالله وحده والصلوة والسلام علی من لانبی بعده وعلی آلہ واصحابہ اجمعین امابعد این کلمہ چنداست کہ باعث برتحریر آن نصیحت وخیرخواهی بادشاه اسلام ایده الله تعالی بنصره ووفقه کا یحب ویرضی وخیرخواهی امرا کبار وجمهور مسلمین احن الله تعالی الیهم. شده است ، کما قال رسول الله صلی الله علیہ التیلم الدین النصحة. امیدواری ازفضل باری آن است کہ اگر بموجب این کلمات عمل کنند تقویت امور سلطنت وبقای دولت ورفع منزلت بظهور می رسد . فرد :

درپس آئینہ طوطی صفتم داشتہ اند
آنچہ استاد ازل گفت همان می گویم

کلمہ اول: اصل اصول (کہ) صلاح دولت ورونق ملت همان تواند بود آن ست کہ الحال برای رضای خدا تعالی وبرای حضرت محمد مصطفی صلی الله علیہ وسلم لازم گردانند کہ چون فتح میسر می شود عدو ومخذول ، اول چیزی کہ بقصد موکد امضای آن کنند جهاد بلاد جات وفتح قلاع وی باشد درین کارفایده است دینی ودنیوی ازآن جملہ سرزنش ملاعین تا بعد ازین زمینداری این قسم شوخی وبیباکی نہ اندیشد " (سیاسی مکتوبات ۴۲مخ)
پہ بل لیک کی چي د اعلیضرت احمدشاه درانی پہ نامہ لیکل شوی اوپہ پوره توګہ اوږداومهم لیک شمیرل شوی داسی لیکي : " الحمدالله رب العلمین ولصلوة والسلام الاتمان الاکملان علی رسولہ شفع المذبنین یوم الدین والہ اصحابہ اجمعین امابعد . این کلمہ چند است حمیت اسلام حامل برعرض آنها شده ، حق عزوعلاآن را برمسامع علیہ برساند ، وجود پادشاهان اسلام نعمتی است بغایت عظیم... باید دانست کہ ولایت هندوستان ملکی ست وسیع ، اوایل ملوک اسلام درمدت بسیار بہ مجاهده بی شمار بہ دفعات این ولایت را مسخر ساختہ اند سوای دهلی کہ جای نشت پادشاهان صاحب اقتدار بوده است درهرناحیہ فرمانروای علاحده بود، مثل گجرات ، احمدآباد ، کہ والی جدایی داشت، وتهتہ راپادشاهی دیگری وبنگالہ درتحت وتصرف حاکم دیگر واوده محل سلطنت شخصی دیگر کہ اورا سلطان الشرق می گفتہ اند وملک دکهن عبارت ازپنج سلطنت است ،برهانپور، وبراراورنگ آباد وبیجاپور، کہ درهرولایت ازین ها پادشاهی مستقیل بوده است ودرمالوه حاکم جدا فرمانروا ، هریکی ازین مواضع کہ نام کرده شد ،پادشاهی علاحده صاحب فوج وصاحب خزانہ میداشت ... " (سیاسی لیکونہ ۴۶مخ ) یولہ هغو اصلونو چي پہ دغہ باره کی هغہ باید پہ فرعی توګہ پہ پام کی ونہ نیسو ، هغہ پہ هند اونیمہ وچہ کی دمسلمانانو دشتہ والی اصل دی، کہ څہ هم دپاکستان پہ رامنځ تہ کیدو اودهند دنیمی وچی د تجزیی لہ املہ دهندمسلمانانو تہ زیات تاوانونہ ورسیدل ، خوترویش دمخہ هند بیا پہ بیلابیلو برخو کی برعکس دریځ اوخای درلود، پہ دی مانا چي ددغہ هیواد پہ ګردو اجتماعی اوسیاسی بدلونوکی دمسلمانانو لہ برخی اخیستو سترګی نہ شوای پتیدای.ان داچي د ١٨٥٧پاحون چي دانګریزانو پرضد رامنځ تہ شو پہ دغہ ترح کی پہ زیاتہ کچہ هم ددغہ هیواد دمسلمانانو مقامت اومبارزه پہ تمامہ مانا روښانہ اود پاملرنې وړوه ، پہ دی چي دغہ انقلاب ددوی لہ مرکزونو راپیل او پرمخ لاړ،چي بالاخره پہ وروستیو شیبوکی ددوی پہ سیموکی لہ ماتی سره هم مخامخ ، اوداکثریت مسلمانانو پہ قربانی باندی پای تہ ورسید. خبره داده چي پہ هغو حالاتو اوشرایطوکی پہ هند کی دمسلمانانوپہ وړاندي دشاه ولی الله پہ شان شخصیت څنګہ کولای شول بی تفاوتہ پاتی شي، (٢) داپہ دی چي هندوستان دهغوی ( مسلمانانو) هیواد واودهندوستان پہ برخلیک ټاکلوکی دوی پہ آزاده توګہ برخہ اخیستہ خپل حق بللہ.لہ همدی املہ پہ دی کی شک نشتہ چي احمدشاه دهمدغہ لوی ځواک (مسلمانان اوهغوی چي لہ مسلمانانوسره یوشان ترفشارلاندی وو ) پہ غوښتنہ اوبلنہ هندتہ ورغی.چي دغہ چال چلند ان اوس د اوسنی پرمختللي نړی پہ معاصره قلابی دیموکراسی کی هم دیوی نوی پدیدی پہ توګہ کومہ ناآشنا خبره ندہ . چي بیلګي موږ همدا اوس پہ افغانستان کي دروسيي اوامريکي له خوا په سترګو وليدي او وينويي !

(٢)هند تہ داحمدشاه بابا دپوخونو داستولو پہ کارکی دشاه ولی الله پرکوششونو برسیره د دوونومیالیوپښتنو روحانی عالمانو نومونہ هم پہ خاصہ توګہ دیادونی وړدي چي هغہ یو دځمکنیو میاعمر اوبل هم میافقیرالله جلال آباد ی دی چي دوی دواړو پردرانی امپراطوری باندی خپلہ معنوی اغیزه درلوده اوپہ دغہ برخہ کي د دوی مشوره هم وه.


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولئ

همداده چې شاه ولی الله رح دهغه وخت دآسیا پیاوړي واکمن احمدشاه ته لیکی : « ...و الا دکهن که اولاد نظا م الملک مر حوم ... گا هی با نواع حیله میا ن قوم مرهته جنگ انداخته وگاہی فرنگیان را با خود رفیق گرفته ،شهرهای عظیم را مثل برهانپور و اورنگ آباد وبیجا پور متصرف ماندند و اطراف و نواحی را به مر هته گذاشتند ،غیر این دو مو ضع خالص ،تصرف مرهته است با لجمله بر انداختن قوم مرهته آسان کاریست اگر غازیان اسلام کمر همت بربندند دو سه صف آنها بشکند در اصل قوم مرهته قلیل اند ...حاصل کلام آنکه در ملک هندوستان غلبه کفار با ین صورت است که در بیان آمد و ضعف مسلمانان باین صفت در ین زمانه پادشاهی که صاحب اقتدار وشوکت باشد وقادر برشکست کفارودورانديش ، جنگ آزما، غیرازملازمان آنحضرت موجود نیست لاجرم برآنحضرت فرض عین است قصد هندوستان کردن وتسلط کفار مرهته برهم زدن وضعفای مسلمین را که دردست کفار اسیراند خلاص فرمودن ، اگر غلبه کفار معاذالله برهمین مرتبه ماند، مسلمانان اسلام فراموش کنند ، واندکی از زمان نگذرد که قومی شوند که نه اسلام را دانند نه کفررا این نیز بلای عظیم است که قدرت بردفع آن به فضل ایزد منان غیرآنحضرت را میسر نیست. ما بندگان الهی رسول خدا راصلی الله علیه وسلم شفیع می آریم وبنام خدای عزوجل سوال می نمایم که همت بانیمت رابجانب جهاد کفار این نواحی مصروف فرمایندتادرپیش خدای عزوجل ثواب جمیل درنامه اعمال انحضرت ثبت شود ..."( مکتوبات ۵۲مخ) .

لنډه داچې احمدشاه ابدالی په ۱۷۵۱کی لاهورته، په ۱۷۵۲ دهلی یا شاجهان آبادته ،په۱۷۵۶ سند ته دبلوچستان له لارې په ۱۷۵۸کی بیا پنجاب ته ، په ۱۷۶۰ او۱۷۶۱ کلونو کی پانی پت اوهمدارنګه په ۱۷۶۲ او۱۷۶۳ کلونو کی هندوستان ته پوځونه استولي چې هدف یی دهند له خلکو په تیره بیا له مسلمانانو او هندي ځورول شویو ولسونوسره خواخوږي اومرسته وه چې په هغه مهال یی هم دمسلمانانواوهم دیوه مسلمان واکمن له پاره خورا اهمیت درلود.

هندوستان ته داحمدشاه ورتګ په عمومي لحاظ په دغه هیواد کی ددغه هیواد دخلکو دروحیی دپیاوړتیا سبب شو.دغو خلکو ته يې دخپلواکی روحیه ورکړه په تیره هغو ی ته چې راوروسته کې يې په رښتيني توګه وکولای شول دانګریزي استعمار په مقابل خپلي مبارزې په یوه منظم غورځنګ کی سمبالی کړي . هندته داحمدشاه په ورتګ سره پرهند باندی دانګریزانو د برلاسی سلسله یوه پیړی پرشاه ولویده چې په دغه کاري ګوزار باندي یوازی انګریزان په سمه توګه پوهیدل ،دوی چې کله پرهندباندی برلاسی ترلاسه کړنوبیایی خپله ګرده پاملرنه په دغه هیواد اوددغه هیواد په چم ګاونډ کی دمسلمانانو پرخوا راواړوله، ځکه خو يي تول ځواک اومادي شونتیاوې په شمال غربی پوله باندې راخرڅیدې، خودوی هغه مهال آرامه سا واخیستله کله چې په افغانستان کی کورنۍ جګړې لمن پراخه شوه شاه زمان هلته بوخت وساتل شو اودهند په جنوب کی دمیسور زمري دشهادت جام په سروړاوه.

انګریزانو دخپلو تولو ستونزو اوخندونو موراحمدشاهی واکمنی اودهغی اغیزی په دغه سیمه کی بللی.دمیسور دزمری خطر هغه مهال انګریزان په زلزله راوستل چې کله هغه دراني واکمن شاه زمان ته دمقاومت اومبارزی بلنه ورولیږله چې بایدله ناپلیونی طرحی سره سم دی هم دانګریزانو پرضد ګام پورته کړي ،په داسی حال کی چې شاه زمان دخپلوګټواوپرتم په خاطرترناپلیون اوچت فکرکاوه اوخپله افغانی طرحه یی په دغه باره کی دانګریزانو په مقابل کی درلوده. ده دمیسور دزمری بلنه وستایله خوداچې انګریزانو لا پخوا ددغی طرحی دناکامولو پلان دبری پولي ته ورنژدې کری و،ځکه خوشازمان په خپلوطرحو باندی بریالی نه شو ، دمیسور زمري هم د انګریزي توطیو شکارشو، همداوه: « له هغه وروسته چې تیپوسلطان د ۱۷۹۹ کال د می په (۵) خاورو ته وسپارل شوانګریزی لفتننت جنرال پیرس په بی اختیاره توګه ساه واخیسته اوچغه یی کړه : « هندوستان نن زموږ شو .» (وګورئ شیرمیسور، سلطان تیپو۔ دفیض عالم صدیقی تالیف (۱۳۹مخ)

دهمدغه اثر په حواله : « کله چې په ۱۷۹۹ کی زمانشاه د رنجیت سینګ، انګریزانو اومهدی علی خان دتوطیی په پایله کی له لاهوره پرشاشو تیپوسلطان په دی یوه شو چې نورنو دعمر ترآخره دانګریزانو په مقابل کی یوازی پاتی شو » (یادشوی اثر ۱۶۸ مخ )

ددغو تاریخي اسنادو اویادونو په لړکی باید دا یادونه هم وکړو چې هندوستان ته داحمدشاه دراني ورتګ په خپله له انګریزانو دهند ژغورنه وه. ښایی یوه پوښتنه داسی هم وشي چې ګواکی په هندکی چې کوم ځواک زیات احمدشاه ته مهم و هغه مسلمانان وو اوبس ؟ دغی پوښتنی ته په لنډه توګه دا ځواب ورکولای شو چې تراحمدشاه دمخه چې په هندکی کوم ځواکونه ول لکه مرهته اونوردهغوټولوجنګي ځواک په تمامه مانا پرمسلمانو باندی پیاوړی او ولاړو،ځکه خو له دي باید انکارونه کړو چې مسلمانانو ددغه هیواد په دفاع او پالنه کی له پیړیو پیړیو راپه دی خوا پیاوړی برخه اخیستی وه دوی په پوځي اوسیاسي اوان چې فرهنګی برخوکي ترنورقومونو پیاوړي ، برلاس اوتجربه لرونکي اوفداکاره وو، ان نامسلمانوځواکونو چې کومی اتلوالی ترلاسه کولې هغه یی هم دهمدغه تجربه لرونکي ځواک په ملتیاسره وې ، ان دپانی پت په مشهورجنګ کی چې کوم مقاومت داحمدشاهی جنګیالیوپه مقابل کی وشو،هغه هم



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

دمخالفو مسلمانوځواکونو وچی نامتو مشر یی ابراهیم گارډي (۳) وچې دخپلو توپونو په ویشتویی احمدشاهي لښکرته سخت زیان ورساوه ، او په پای کې دجگړې په ډګرکې ونیول شو اوحمدشاه بابا دپاني پت پرمیدان باندې په دارکړ.
په هرډول ،کلہ چی احمدشاه هند تہ ورغی ددغو نومیالیووسلہ والو ځواکونویوزیات شمیردده پرخوا درېږي اودده په ملتیا دده لہ پاره سوبې کوي کہ لہ احمدشاه ابدالي سره دغہ لویہ همکاری اویووالی نہ وای دابہ خوراگرانہ وای چی دپانی پت دغه لوی تاریخی بری دی دافغانانو پہ برخہ شوی وای .پہ هندکی دمسلمانانودځواکونو جبهی همیشہ بیلی وی دوی کہ ان لہ مرهټه وواونوروځواکونو سره هم وو بیایی هم پہ جنگی لحاظ خپلہ وړتیا ترخپلی اراده لاندی وه . داخو هرچاتہ روښانه ده چی مرهټه اونورو راجا گانو ترزیاتی اندازی دزور پہ مقابل کی دملی منافعو پروا نہ کولہ اونہ یی پلویان وو، همداوه چی ځاني گټې یی ترملی منافعو سمی پاللی دي ،لہ احمدشاه وروستہ دهند تاریخ وښوده چی دغو راجاگانو دهند دبرخلیک دخوندی ساتلو پہ برخہ کی یوگام هم چی دهند پہ ملي تاریخ دی اهمیت ولري پورتہ نہ کړ، دوی دهیواد پہ خوراحساسو شیبوکی لہ انگریزانو سره معاملی وکړې چی دهند تاریخ یی کلہ هم لہ یاده نہ شی ایستای .
بیاهم د ویلو وړده چی احمدشاه هند تہ لکہ نادر غوندی کلہ هم پہ خپل سردیرغل پہ نامه نہ وو تللی ، احمدشاه هندتہ دشاولی الله ، دهنددمسلمانانو اوغیرمسلمانوپہ بلنہ ورغی ـ شاولی الله رح هغہ څوک و چی پہ هند کی یی داحمدشا هی پوځونو دتنظیم اوان اعاشی بندوبست پہ خپلہ وکړ، اوان داچی دډهلی پہ ښارکی داحمدشاهی پوځونو دکنترول پلان هم ده پہ خپلہ ترلاس لاندې نیولی و همداده چی پہ هندکی نامتویوسفزي پشتون جنرال نجیب الدولہ تہ پہ یوه لیک کی لیکي :
« خدای عزوجل آن امیرالغزاة ، رییس المجاهدین را محفوظ ومحفوظ وبہ عین عنایت ملحوظ دارد بعدازسلام واضح آنکہ رقیمہ کریمہ رسید، حمدالهی برصحت سلامت ذات سامی بجا آورده شد، درپرده غیب برانداختن دوفرقہ ضالہ یعنی مرهتہ وجت مصمم شده است ، موقوف بروقت است همین کہ عزیزان کمرهمت بستند ودرصدد قتال آمدند ، طلسم کفرانشاالله تعالی می شکند ، باقی ماند مطلبی دیگر، چون عبور افواج شاهیہ بہ دهلی واقع شود، اهتمام کلی باید کرد کہ مثل سابق پامان ظلم نگردد، اهل دهلی چندین دفعہ نهیب اموال وهتک ناموس دیده اند بہ همین سبب درکارهای مطلوبہ شاهی توقف افتاد ، آخر آه مظلومان کارها دارد، این بارا گرمی خواهند کہ کاردست بستہ میسرشود قدغن بلیغ باید نمود کہ کسی بامسلمانان وذمیان دهلی کار نداشتہ باشند والسلام » (مکتوبات ۶۰مخ )

**ج : احمدشاه چی کوم هدف درلود هغہ یی سرتہ ورساوه ...**

یوشمیر پوهان چی کلہ یی ناپیلی نہ شو بللی داحمدشاه پہ باب دگوتنوی داخبره هم کوي چې گواکی ده پہ هند کی یوپیاوړی حکومت جوړنه کړاودهند لہ سوبی زر بیرتہ خپلی پلازمینې کندهارتہ راستون شو. یو هندی پوه پہ خپل اثر (تاریخ مختصرملت اسلامیہ ) چی پہ اردو ژبہ دی داحمد شاه پہ باب لیکی : " احمدشاه پہ اخلاقی لحاظ ، أانی کردار، پوځي صلاحیت، انصاف اوعدل اودینداری لہ املہ پہ گرد ملت اسلامیہ کی لہ خورا لویو او ممتازو واکمنانو و، چی یوشمیرخلاوی یی هم درلودی ، ده پہ پانی پت کی مرهتہ وو تہ تاریخی ماتہ ورکړه ددی پرځای چی پہ دهلی کی یو پیاوړی دولت ځای پرځای کړي ، بیرتہ دکندهار پہ لور ستون شو ..." (ملت اسلامیہ کی مختصر تاریخ دویم جلد ۴۱۸مخ )

دداسي خبروموخه اوهدف معلوم دی ، داډول خبرې دهند اوسني مسلمانان کوي، دوی فکرکوي چې مغلان نوردواکمنۍ نه وو، که احمدشاه ابدالی ځان په هندکې نیولی وای اوهند یی خپل مرکزټاکلي وای هند به بیاهم دمسلمانانو په واک کې پاتې واوانګریزانوبه هم داجرآت نه وای کړی چې هندوستان یي نیولی وای . خوموږ د دوی په ځواب کې یوازې دومره وایو چې احمدشاه هندوستان ډیرښه مطالعه کړی و، هغه دلته دمغلي کمزورې واکمنۍ د ځنګندن سلګۍ اوریدې، هغه په دې پوهیده چې هند یوازې په هندوستانیانوباندې ، پرهغوی چې دلته واک اوځواک لري اداره اوساتل کیدای شي ، هغه داکاروکړ، مغل چې له کفایته لویدلی وو، دپاچا په نامه پرتخت کیناوه ، نورپوځې اومهم مقامونه يي نورو وتلو هندي استوګنو مشرانوته چې پرهغه مهال دلاربنوني حساب پرې کیده وسپاره او دايي دیوې پیشبنۍ په توګه په پام کې وه چې دده پاتې کیدل په هندکې همداسې پای لري لکه دمغلواونورو تیرو واکمنانانو. احمدشاه ابدالي په خپله دغه وړاندوینه باندې دهندستان د راتلونکی په لوریوه نوي لارپرانیسته چې هندیان کیدای شي یوڅه موده وروسته

(۳) ګارډي (ساتونکی ) د دکن له پټانانوڅخه دی چې په ځوانی کې له فرانسویانو سره د باډي ګارد پوځي په توګه دنده پیل کړه. دفرانسویانو په پوځ کې یي په توپچي برخه کې عملی کار وکړ ترڅوچې په دغه برخه کې یولوی توپچي ماهرترې جوړشو. ګارډي ابراهیم نومیده ، لومړی له نظام سره نوکرشو، څه جنګونه یي دهغه په مرسته هم وکړل، په پای کې مرهټه ووته ورغئ ، له هغوی سره یي د ډیلی اونورو سیمو په جګړو کې برخه واخیسته ، دپاني په جګړه کې هم ترټولو مرهټه مشرانو دی پیاوړی اومهم و، دده توپونواحمدشاهی پوځ ته په لومړی ورځ لوی زیان ورساوه ، مرهټه مشران هسې ځانوته کریډت ورکوي، دپانې پت اصل اتل همدغه ګارډي و چې، ژوندی ونیول شو شجاع الدوله ته يي زاری وکړئ خوله مرګه وژغورل شي هغه یي هم سپارښتنه وکړه خو ونه منل شوه اوپه احمدشاهی امرپه سزا ورسول شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

پردغه تاريخي ميراث باندي ترموږ زيات وویاړي. احمدشاه بابا هند هنديانو ته وسپاره اوپه خپله افغانستان ته راستون شو اوپه ډاګه يي داوويل چي :

## د دهلی تخت هيرومه چي راياد کړم
## زما د ښکلي پشتونخوا دغروسرونه

بله خبره داوه چي دهند خلکو اودهند روحانيت احمدشاه بابا ددی له پاره نه و رابللی چي هند غصب کړي ، ان دشاه ولی الله په مکتوبونو کي هم داسي اشاره نشته چي دی د په هند کي د درانی امپراتوری دځواکونو په پاتی کيدو باندي ټينګاروکړي ،خودمرستي هيله يی تری درلوده.
احمد شاه ابدالي چي دکوم هدف په خاطر دهند په لور راوتلی و هغه يی ترلاسه کړاوپرهغه څه چي له ده غوښته شوي وه بريالی شو، ده ديوه مرستندوی په توګه ترهغه زياته ادعا هم نه درلوده. هغه په هند کی دمغلي حکومت د پاتيدوهيله کوله هغه ترسره شوه هغوی چي ده وګمارل لکه شاولی الله اودهغه کورنی ،يوسفزی نجيب الدوله اميرالمجاهدين (٤) شجاع الدولـه ، احمدخان بنګښ دوی ټول هغه کسان وو چي دوی په بشپړمسووليت سره دهندوستان اداري ته اوړي ورکړي وي. اودوی ددغه هيواد دوارثانوپه توګه د درانی امپراتوری پرهغه تګلاره لکه چي احمدشاه هغه په ايران کی پلی کړی وه مخ په وړاندی ګامونه اوچت کړل.
احمدشاه بابا دخپلوسوبو په باب په خپله داخبره کوی : « چي ماته دجهان نيولو اوهيواد نيولو له کاره پرته ديوی نيکنامی اود سامی شريعت له خوريدو پرته بل کوم هدف نشته ، په هروخت اوهرمهال کی زما دغه ثواب ته تلوسه ده او پرته له دي زه بله هيله نه لرم چي دپياوړی دين چراغ ددنيااوربع مسکون پرمخ خپلي سپرغي خوری اوخلايي اوچته وي.ماته دواکمنی کول پرته دسيدالانام دشريعت داعلام اودملت ددرناوی له وياړه پرته بل اهميت نه لري اونه می له نوموړي هدفه پرته بل کوم ملحوظ په دی باب په نظرکی دی.زما ګرد کوشښونه په همدغه منظورروان دی څو چي دجزا په ورځ دپاک الله په مخ کی شرمنده نه وم .زما هدف اوهيله دګرد بشريت په تيره بيا د اهل اسلام له خيراوفلاع پرته بل شی نه دی...» ( احمدشاه درانی - دپوپلزايی اثر )

**پايله:**

احمدشاه ابدالی بی شکه چي داوسنی افغانستان يوبريالی موسس اوواکمن و - هغه ددوو نيمو لسيزو په اوږدو کی دخپل عصر له نامتوواکمنانو وشميرل شو چي لامل يی هم ديوه منظم اوقوي ځواک په مرسته ديوه مرکزي دولت اواداری را منځ ته کول وو.داسي ځواک چي دهغه مرسته يي په خورا آسانی سره يي دکورنيو او بهرنيوغلګرو اوسرکښو ځواکونو په مقابل دخپل هيواد، خپلي خاوري اوملي تماميت دفاع اوننګه وکولای شوه. دويمه لويه اوډيپلمرلنی وړخبره چي دده دواکمنی دلويي برياپه توګه ويل کيدای شي هغه داده چي ده پرته له کوم غرض او تعصبه په خپل عصرکي په هيواد کی دننه اوباندي کار دکاراهل ته وسپاره لکه چي اروابناد غبارهم دغه مهم اصل ته اشار کړي اوليکلي يي دي چي په هره برخه کی يي په کارپوه کسان پرته له قومی ، مذهبی او توکمی توپيرونو له ملي مسووليتونوسره پرکارونو وګمارل.چي دغه اصل يی داحمدشاهی امپراتوري د رسمي ارکانو په ټاکلوکي په خورا سمه توګه ليدلی شو.« ... دهرات په ولايت کی يی درويش علی خان هزاره ، په نيشاپور کی يی عباس قلی خان بيات ، په قلات کی يی اشرف خان غلجی، په شکارپور کی دوست محمدخان کاکړ، په مشهد کی يی شاه روخ افشار، په بلوچستان کی يی نصيرخان بلوچ ، په پنجاب کی يی زين خان مومند، په سند کی نورمحمد خان چي په شهنوازخان سندی نامتو،په ديره اسماعيل خان کی موسی خان، اوپه ملتان کی يی شجاع خان ابدالی ...» پردندو وګمارل (غبار، مسير ٣٥٩مخ )

زما په اند په اسلامي نړی کي د دراني امپراطوری ورته والی اوپرتله يوازی دعباسي نامتو خليفه هارون الرشيد

---

(٤) نجيب الدوله په ١٧٠٧ کال پښورته نژدي زيږيدلی دی ، داچي په هغه مهال هلته دده له پاره ددرس اومعاش شرايط نه وو برابرله هغه ځايه دوابی ته راغی اودلته ځای پرځای شو. په ١٧٧٣ کی يی آنولي ته ځان  علی محمد خان ته ور ورساوه ، لکه چي علی محمد خان دشاهنشاه له خوا دسرهند دګورنر په توګه مقرر شو، دی هم له هغه سره هلته ولاړ نجيب خورا نوميالی ، پوه ، ځيرک اولرليدی انسان و. دشاه ولی الله خاص مريد و چي داحمد شاه په رابللو اودعوت کی له هغه سره يوه خوله اويونظرو. په پوخي چاروکی داسي ماهرپوځي و چي ددښمنانو ګردمقاومتونه به يي په پوره متانت سره تارومارکول. په سياست کي هم دی ددتبيرلرونکی سياست پوه و چي دښمنانو هرشان توطيي يی کشفی اوپه خپل وخت له منځه وړلای  شوي ، ويل شوی چي دغه نوميالی اتل له مغلی حکومته داسی ننګه وکړه لکه چي خراسانيانو له بنی عباس خليفه ګانوسره په خپل وخت کی ترسره کړي وه.کله چي احمدشاه له هنده دوتلو نيت وکا بوبيا يی دی د هند(اميرالامرا ) وټاکه. نجيب الدوله د علومو اوفرهنګ په خوريدو اوپرمختګ کی دپاملرنی ونده  ترسره کړه . په نجيب آباد کی يی يوه مدرسه جوړه کړه چي دمولانا عبيدالله سندی په وينا دشاه ولی الله دغورځنګ له سياسی مرکزونو يوه همدغه مدرسه وه.هغه په هندکی دهندومسلمان دولت له موسسينو و. دغه نوميالي په ١٧٧٠ کال کی له دنيا سترګي پټي کړي ..." (مکتوبات ٢٠٢مخ )



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په ځير و لولئ

(۱۴۸ق ۱۹۳ق) لہ واکمنی سرہ کیدای شي چي پہ عباسی دورہ کي یی دیوي پراخي واکمنی اساس کینود چي دهغي لويې واکمنۍ (خلافت ) یوہ مهمہ برخہ یی برمکي یحیی اودهغہ زامنو تہ وروسپارلہ  هغه کسان چي هغوی پہ خپل وخت کي لوی اودپاملرنی وړنومیالي واکمنان یادیدل.
احمدشاہ نہ یوازې دیوہ دولتی، سیاسی اوپوځي سستم وارث و بلکہ هغہ پہ خپل هیواد کی دیوہ هراړخیز اوجامع فرهنگ دایجاد اوپرمختیا وارث هم و، چي اغیز یی ان ترخپل هیواد دباندی پہ ګاونډیو هیواد و کی هم دپاملرنې شو.
پشتواوفارسي ژبوتہ یي پاملرنہ هغہ لویہ کارنامہ وہ چي د احمدشاهی دوری لہ مهمو فرهنگی کارنامو یی بللای شو.دی دپشتوژبی نومیالی شاعرو چي ددہ دغہ تگلارہ ددہ پہ کورنی کی ددہ راتلونکوهم ددہ پہ شانی وڅارلہ. فارسی ژبہ یي پہ ادارہ کي وپنځولہ اردو اوهندي اوان چي پنجابي ژبی یی پہ هنداوپنجاب کی داسی وهڅولي چي ددغي دوری آثاراویادګارونہ یی تراوسہ پوری تلپاتي اوستایني وړدي . همدغه دراني امپراتوري وه چي دفرهنگی پالني له برکته يي تراوسہ پوری فرهنگی ویاړونہ اودکتابوتاج محلونه ( چي رامپوررضا کتابتون یا دکتابونو تاج محل ) یي دهرواقعبين اوپہ فرهنگ مین انسان پاملرنہ وراړوي اود احمدشاهی عصردغو تلپاتی  هنري اوفرهنگی برياوو تہ اوس هم دزړہ لہ کومی ګوتہ پہ غاښ کيږي ، څوک راته ويلي شي چي په دغه کچه فرهنګي خدمت مرهته وو دخپل تاريخ په اوږدوکي هندوستان ته کړی دي ؟؟؟

پای

[دراني احمد شاه د اوسني افغانستان مؤسس او د پاني پت د تاريخي حماسي اتل, لومړۍ برخه]


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خېر و لولئ